شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک نشراتي ارګان

د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) **اندیښنه**

حضرت عمر(رضی الله عنه) وایي: «الله رسول(صلی الله علیه واله وسلم) فرمایلي دي: «زه د دغه امت(اسلامي امت) په هکله نه هر هغه منافق څخه اندیښنه لرم، چې خبرې په حکیمانه کوي، خو عمل په ظالمانه کوي.»

(دغه حدیث امام بیهقي روایت کړی- مشکوة)

چې وايې هغه وکړی!

لوی خدای(جل جلاله) فرمایلي دي: «ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی(ای مؤمنانو!) ولې هغه څه وایاست چې عمل وربااندې نه کوئ؟»

(الصف -۲)

لومړی کال | دولسمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال دکب (حوت) د میاشتی (۲۱) | د ۱۹۹۶ میلادي کال دمارچ (۱۱) | د ۱٤۱٦ق کال دشوال (۲۱)

الحاج محمد حسن آخند سرپرست شورای عالی تحریک اسلامی طالبان، د مصاحبه خصوصی با خبرنگار شریعت، گفتند:

ما به ارتباط ترمیم سرک با هیأت پاکستانی به کدام توافق نرسیده ایم

وطن ما از همه اولتر به یك نظام شرعی ضرورت دارد

اگر شما میخواهید با ما کمك کنید، در نفاذ حکم الله (ج) با ما دست بدهید، مهم ترین خواسته، ما همین است

الحاج ملامحمد حسن آخند سرپرست شوری عالی تحریك اسلامی طالبان در مصاحبه، خصوصی خود با خبرنگار هفته نامه، شریعت در قندهار گفتند:

یك هیئات پاکستانی به قندهار آمده بود و با ما ملاقات داشتند و خواهش آنها ترمیم شاه راههای چمن- تورغندی بود که ما با اوشان در زمینه بکدام توافق نرسیده ایم ما برای آنها گفتیم که وطن ما از همه اولتر به یك نظام شرعی ضرورت دارد بجز از این خواست و هدف مقدس دیگر چیز برای ما ارزش ثانوی داشته و دارد اگر شما میخواهید با ما کمك کنید در نفاذ حکم الله (جل جلاله) دست بدهید و کمك کنید مهم ترین خواست ما همین است.

جناب آخند زاده صاحب در جواب یك سوال دیگر خبرنگار اعزامی ما گفتند: که تا حال در میان ما و شورای هماهنگی هیچ صحبتی صوت نگرفته و نه کدام موافقه ئی در میان بوده است هر آنچه مطبوعات و آژانسهای خبری پخش مینمایند تنها جنبه، تبلیغی دارد و بس. آخند زاده صاحب افزودند ممکن بعضی از افراد پائین رتبه، ما با اوشان در پاکستان و یا جای دیگری دیده باشند اما به این ارتباط قیادت تحریك نه کدام ملاقاتی داشته و نه فیصله ئی، یاکدام موافقه، را کرده است.

دطالبانو د «سیار ګروپ» نوم په «امربالمعروف نهی عن المنکر» بدل کړای شو

د لوګر له ولایت نه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکوي چه د طالبانو د اسلامي تحریك (سیارګروپ) چې د عالي شورى لخوا دفعالیت دنده ورته سپارل شوې وه او د ۱۳۷٤ د حوزا د میاشتې راپدې خوا یې د هیواد په آزادو ولایاتو کې فعالیت کاوه څه موده وړاندې د اسلامي تحریك دعالي شورى لخوا د (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) په ګروپ بدل کړای شو، او هدایت ورته وشو چې هغه به په ټول افغانستان کښې د (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) په خاطر علي څلي کړي هغه که طالب وه او که نور هیواد وال چې له شریعت څخه یې سرغړونه یا مخالفت کاوه دغه ګروپ به ورته لارښوونه کوي او د شریعت د نفاذ په لار کښې به په ستړي کیدونکې هلې ځلې کوي.

دحجاجو د تلو دکار د سمون او سهولت په خاطر دکندهار ولایت په مقر کښې غونډه جوړه شوه

دکندهار له ولایت نه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکوي چې دحجاجو کرامو حج ته دتلو دکار دسمون او سهولت په خاطر د کندهار ولایت په مقر کښې غونډه جوړه شوه.

خبریال وړاندې لیکي غونډه کښې له یو شمیر مسئولو اشخاصو نه علاوه دکندهار والي او دعالي شورى سرپرست الحاج ملامحمدحسن هم برخه اخیستي وه چې دحجاجو کرامو حج ته دتلو په هکله خبرې وشوې او لازم تصمیمونه ونیول شول.

په پیښور کښې د طالبانو د نمایندګۍ مسئول ملاعبدالمجید اخندزاده له (شریعت اونیزې) سره په مرکه کښې:

طالبان په اوس وخت کښې په ننګرهار د حملې نیت نه لري

له ټولو اول باید دکابل کار یو طرفه شي

طالبان نه دچا دوستان دي او نه دسمنان، غواړي چې په ټول هیواد کښې شرعي نظام قایم کړي

د پیښور دنمایندګۍ مسئول د (شریعت اونیزې) د خبریال د پوښتنې په حواب کښې چې ویل کیږي طالبان په ننګرهار د حملې تیارۍ کوي وویل: طالبان په اوس وخت کښې په ننګرهار دحملې نیت نه لري ځکه چې دننګرهار اکثره قوماندانان د طالبانو د اسلامي تحریك دوړنګو لپاره سترګې په لار دي، خو له ټولو اول باید د کابل کار یو طرفه شي (حلوروم مخ)

داسلام خادم ملامحمد عمر «مجاهد» د اسلامي تحریك د المپیك رئیس عبدالشکور «مطمئن» سره وکتل

له کندهار نه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکړي چې د اسلامي تحریك امیر ملامحمدعمر (مجاهد) د خپل کار په دفتر کښې د اسلامي تحریك د المپیك رئیس عبدالشکور (مطمئن) سره وکتل. خبریال وړاندې لیکي د المپیك رئیس داسلامي تحریك تر کنترول لاندې سیمو کښې د خیلو کارونو رپوټ وړاندې او پشپې معلومات یې ورکړل چې په پای کښې د اسلامي تحریك امیر د دوی د خدمتونو څخه خوښي څرګنده کړه او دلاښه خدمت دپاره یې تشویق کړ.

دوردګو ولایت دښوونې او روزنې د ریاست په انګر کی لویه غونډه جوړه شوه

په غونډه کی د ګڼ شمیر برخوالو په شمول دتحریك دسوونې او روزنې عمومي رئیس او نورو مسئولو اشخاصو ګډون درلود

میدان- حوت ۱۸

د شریعت اونیزې خبریال دوردګو ولایت د میدان ښار حخه خبر راکوي چه د روان کال د حوت د میاشتې په ۱۸ نیټه ددغه ولایت د ښوونې او روزنې دریاست په انګړ کی یوه درنده غونډه جوړه شوه. (څلورم مخ)

دکندهار والی الحاج ملامحمد حسن د زابل له قوماندانانو سره د خپل کار په دفتر کښې وکتل

دکندهار ولایت نه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکوي چې د کندهار والي الحاج ملامحمدحسن د زابل قوماندانانان ملااسدالله اخند او ملامحمد نذیر اخند سره وکتل. ٤مخ

سرمقاله

دښځو نړیواله ورځ

* د ۱۹۹٦م کال دمارچ په ۹ مه نیټه په نړی کی د ښځو نړیواله ورځ ولمانځله شوه.

دغومره هم ښه ده چې دنړی خلك د خپلو معلوماتو، میندو، خویندو او خوږیدلو خورلڼو په یاد سره غونډېږی، ویش وځ کوی، خو هغه څوك چې د ښځو د حقونو ډیره یادونه کوی هغوی یوازې پارلیماني حقونه، له تاریخه ووسره اوږه په اوږه زده کړه او اداری کارونه، له کوره بهر ګرزیدل او رګرزیدل او داسی نور حقونه ډیر یادوی او له دغه ځایه داشك پیدا کیږی چې داخلك غرضیان او دبدنیت خاوندان دي، که نه نو د ښځو خوارکیانو هغه حقونه ولي نه یادوی چې دنړی د ښځو اکثریت له ستونځو، لوږی، رنځونو، محرومیتونو او ظلمونو څخه وژغوری، یالې تر لږه د ژغورنې لارې چارې یې وځیږی، دغه حقونه چې خلك یې ډیره یادونه کوی که نړی یې ښځوته ورهم کړی یوازې هغه ښځې به ګټه ورڅخه واخلی چې له هغه پرته هم ډیرې ستونځې او ستړیاوی نه لري، بیاهم دابه ده چې یوکم شمیر ښځوته روا حقونه تثبیت شی مګر هغه خوارکیانی ښځې به چاته وژاړی چې زده کړه یې فطری او بنیادی حق دی خو نړی دهغه لپاره سالمه طریقه نه لري؟ هغه ځوریدلی ښځې به چاته وژاړی چې له بلوغ نه وروسته یې د ژوندانه د ملګری (میره) د شخصیت په هکله سلا، مشوره او موافقه فطری او شرعی حق دی خو داخوارکی خبره هم نه وی چې نکاح یې شوی وی؟ هغه کړیدلی ښځې چاته وژاړی چې د لور (مهر) یې خپل شرعی حق دی خو دی خوارکی په سترګو هم نه دی لیدلی؟ هغه بې قصیبه میرمنې به چاته وژاړی چې دمیاشتنی فطری ناروغی شپې ورځې یا دځاروو په شپول کی یاله کورنه بهر په بیدیا تیروی؟ داځکه چې ناپوهه او جاهله کورنی یې په دغه وخت کی له پلیت ژوی نه هم پلیته ګڼی، هغه مظلومی بیبیانی به چاته وژاړی چې دمیره او نورو قربانو میراث یې قرآنی حق دی او ځوك یې پوښتنی هم نه؟ هغه په اوریځی شوی خویندې به چاته وژاړی چې ظالم میرونه یې یوځلی په وهلو ټکولو له پښو واچوی او بیایې (۲مخ)

دشریعت اونیزې اداري او کنر لوستونکو یوه لویه اسلامي او ملي غوښتنه:

دیر تاریخه او سحیفه مسلمان پوهان او دنبوغ خاوندان دجومات له برکتي غیږي نه راوتلي او کمال ته رسیدلي دي

لکه چې معلومه شوې ده د افغانستان طالبانو د اسلامي تحریك عالي شورى په پام کی لرلي چې د راتلونکی ۱۳۷۵ هجري کال په پیل کی د ښوونې او روزنې په هکله د ټولو ولایتونو په سطحه د پوهانو او استادانو یوازی سیمینار د تحریك په مرکز کندهار کی رامونډ کړي او دټولو ګړانه لاندې ولایتونو د ښوونې او روزنې د چارو د ښیښتیز سمون په هکله ګټور تصمیمونه ونیسي.

دغه خبر د شریعت اونیزې په (۱۱) ګڼه کی دیوې مصاحبې په ترڅ کښې (٤ مخ)

امریکا د رباني حکومت غیر قانوني وباله

رباني دکابل په ښار دټوپکو په زور مسلط دی

د افغانستان د دیرشو ولایاتو څخه رباني یوازی څلور ولایتونه پخپل کنترول کی لري

(د امریکائی مرجینو څرګندونې)

د شریعت اونیزې خبریال د وحدت دورځپانې د یکشنبه ۲۰ حوت دورځی د ګڼې په حواله ریوټ راکوي چه امریکائي سرجینو پخپل یو تازه ریوټ کی څرګنده کړی چه رباني تش په نامه د افغانستان جمهور رئیس ځان ګڼي مګر په حقیقت کی دغه د جمهوری ریاست دوره په ۱۹۹٤م جون کی ختمه شوې ده، ریوټ زیاتوی چه رباني د افغان ولس هیڅ ملاتړله خانه سره نلري او دغه اداره دهیواد د دیرشو ولایاتو (٤مخ)

دهرات په ولایت کی پنځه تنه غله ونیول شول

د شریعت خبریال له هرات د ولایت څخه ریوټ راکوي چه په هغه ولایت کښې پنځه تنه غله پداسې حال کښې د ولایت د امنیتي مراکزو لخوا ونیول شول چه جاتونه ئې د طالبانو په جامو کې نمسلی وه او غلاوې ئې کولې، خبریال زیاتوي مجرمان د امنیتي چارو مسئولینوته سپارل شوي او ژر دی چې د خپلو ناوړه اعمالو نتائج په وویني.

دلغمان ولایت د علینګار په ولسوالی کی یوه غیرتی میرمن د ځو بی حیاوو وسلوالو لخوا په شهادت ورسیده

د لغمان ولایت نه یو باوری خبر لیکي تیرو ورځوکی څلور کسه وسلوال یوه کورته د شپې لخوا په داسی حال کی ور واوښتل چه کورکی یوه کونده ښځه او دهغې یوه پیغله لور موجوده وه، وسلوالو اول دکور دروازه ور وه وهله او آوازی (٤مخ)

مولوی احسان الله (احسان) د پیښور له سفر څخه وروسته په قندهار کی د شریعت خبریال ته وویل:

د سفر نتائج مو دیر په زره پوری وُه، ټول هیواد وال د طالبانو راتلوته سترګی په لاره دی، دخپل سفر په ترڅ کی مو د هیواد مختلفو پرګنو سره ملاقاتونه ترسره کړل

قندهار حوت ۱۹

د قندهار څخه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکوي چه د طالبانو د اسلامي تحریك د مشرتابه شورى غړي مولوی صاحب احسان الله(احسان) چه د روژې د مبارکې میاشتې په وروستیو ورځوکی پاکستان ته د افغاني مهاجرینو د وضعې د معلومولو لپاره سفر کړي وُه. دروان کال د حوت د میاشتې په ۱۸ نیټه بیرته قندهار ته پخیر راستون شو.

مولوی صاحب له راستیدو وروسته زمونږ خبریال ته څرګنده کړه چه د خپل سفر ډیر ارزښتناکه نتائج لرل. هغه وویل مونږ د خپل سفر په ترڅ کی په پاکستان کی دافغاني مهاجرو د مختلفو پرګنو سره ولیدل چه په هغوی کی دینی علما (٤مخ)

داهم د ملی لوټمار یوه نمونه:

داسماعیل خان دزوی په واده کی څلورزرو ایرانیو ښځوګډون کړی و

دتعاون په نامه میاشتنی خپرونه د خپل دریم نشراتي کال په دریمه ګڼه کی په ۹٤ صفحه کی لیکي: وه هرات د پخوانی والی د زوی په واده کی څلورو زرو ایرانیو ښځوته (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دویم مخ

په اسلامی نړی کی دناسیونالیزم سرطانی جراثیم

۲ مخ

د هند لاسوهنو ته یوه لنده کتنه

(دویم مخ)

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص۲

په ژوندانه کی د امن او اطمینان اړتیا

(دریم مخ)

طالبان څوك دی او څه غواړی؟

(دریم مخ)

دسیدآباد په شرعی محکمه کی دیوې حقوقی دعوی خلاصول

ستنتم سترګو لیدلی حال – د طالبانو د اجراآتو یوه بیلګه (دریم مخ)

ټول هغه حقوق چې «شریعت» ، ښځوته ورکړی، چې د علم زده کړه هم پکی شامله ده، مونږ عمل پری کوو

د اسلام خادم ملامحمد عمر مجاهد له وینا څخه

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

د لیکوال هیئت تر کتنې لاندې

مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان

تیلفون : ۸٤۰۳۷۸

آدرس : په پیښورکښی دطالبانو داسلامی تحریك نمایندگی

دیوې گڼې بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی

په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله ...

په شاڅه (له وس نه بهر) کارونو باندی ستړی ستومانه کړی! هغه کم نصیبه میندی به چاته وژاړی چی کله کونډه شی له شرعي عدت نه وروسته یی که د میړه پخپله خوښه کاوه نو دایی قرآنی او فطری ځانگړی حق دی مگر دمیړه خپلوان یی خپل موروثه مال گڼی؟؟؟.

دغه او دغسی په سلگونو تیری او ناروا وی دی چی دوی خوارکیانی یی دناپوهی په تپه تیاره چاپیریال کی په ټول ژوند کی گالی، هغه څوك چی له بناروڼونه بهر د ملتونو په پراخو برگنو کی ژوند کوی ددوی له بی شمیره ستونځو او ربړو څخه بو څه خبروی خو څه چاره وکړی! له یوی خوانه په ټوله نړی کی د اسلام له ځلانده او طلایې دورنه راپه دی خوا داسی مالی نظام نشته چی په عدل او انصاف ولاړوی، وویو، تېروته یی گته ورسیری، سرمایه داري نظام ددولتمنو خلکو دولتونه په ککری وروارول خو ورئ یی لاپسی وړی کړل، سوسیالستی نظام دومره وکولای شول چی ماړه او دولتمن خلك یی وږی کړل مگر خواران یی لاپسی خوار کړل، یاالله! دنړی مظلومان فریاد کوی او وایی چی: موږ ته ستاله پلوه کارجوړوونکی او کومکیان تیار کړه!

موږ مسلمانان په خپل ویاړلی تاریخ ځکه ویاړو چی له یوی خوانه یی دغسی مالی نظام چلاوه چی دخوارانو، غریبانو د رنځ دوا پکښی وه او له بلی خوانه یی دښوونی او روزنی دغسی بریالی نظام چلولی دی چی بی شمیره نارینه او ښځینه پوهان او دنبوغ خاوندان یی دنړی دعلم په اسمان کی ځلانده ستوري دی او نړی ړنا ورنه اخلی.

موږ دهغی ورځی په ارمان کی یو چی په اسلامی امت کی یوځل بیا هغسی ښځینه نامتو پوهانی، د نبوغ او پرهیزگاری میرمنی بیبیانی پیداشی چی راتلونکی نسلونه وریاندی ویاړی.

دمسلمانانی عقیده

لسمه برخه

غازی خیل

څلورمذهبونه

۲- د قرآن مجید او سنت صورت حال:

الف: قرآن مجید: قرآن مجید به جبرئیل علیه السلام لیږ لیږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړو، چی کله به یی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورواوراوه د هغه(ص) به ټول زده شو، هغه(ص) به بیا اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم ته ورزده کړ، هغوی(رض) به یاد اوه او د وحی لیکونکو(رض) ته به یی د لیکلو امر وکړ او وروسته به یی د آیتونو او سورتونو په ترتیب باندی هم وپوهول، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د هجرت په یوولسم کال د آخرت سفر خوښ کړ ولاړ او قرآن مجید ټول په یوه مصحف کی په یوه ځای نه ؤلیکل شوی، بلکی د حافظانو(رض) په سینو کی، د وحی د کاتبانو(رض) په پاڼو کې ساتلی ؤ.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د خلافت په لومړی سر کی د (یمامی) په جهاد کی ډیر حافظان شهیدان شول رضی الله تعالی عنهم، په دغه وخت کې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په وړاندیز سره حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه حضرت زید بن ثابت انصاری رضی الله عنه(چی د قرآن مجید حافظ، د وحی کاتب، مجتهد او د ډیرو ځانگړو خصوصیاتو خاوند ؤ) راوغوښت او د قرآن مجید د راغونډولو او په یوه ځای لیکلو امر یی ورته وکړ، هغه په خپل حفظ کفایت نه کاوه دی وایی: ما له هډوکو، له تیږو، دڅجوری له پاڼو چی وریاندی لیکلی ؤ او د حافظانو له سینو څخه راغونډ کړ، د سورة براءة دوه وروستنی آیتونه می یوازی د یو سړي(ابوخزیمة الانصاری رضی الله تعالی عنه) له یادونه را پیدا کړل- یعنی که هغه شهید وای نو دغه دوه آیتونه به له ما پرته له بل هیچا سره نه وو موندل شوی- ټول می په یوه ځای راغونډ کړ. دغه په یوه ځای لیکلې شوې پاڼې له حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره ساتلې وې له هغه نه وروسته بیا له حضرت عمررضی الله تعالی عنه سره ساتلې وی له هغه نه وروسته بیا حضرت ام المؤمنین حفصی بنت عمر رضی الله عنها سره ساتلې وې.

د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په خلافت کی د قرآن مجید حافظان د اسلامي نړۍ په لویو ښارونو کې تیت شول او مسلمانانو ته به یې د قرآن مجید تلاوت کاوه، ددوی په مورنۍ(عربی) ژبه کی په ځینو تورو کی توپیر ؤ، په هغه شان یی په قرائت کی هم په ځینو تورو کی لږ څه توپیر ؤ، هر یوه به خپل قرائت له نورونه غوره گاڼه، له دی نه حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په آینده کی د سخت اختلاف خطر احساس کړ، له حضرت ام المؤمنین حفصی رضی الله عنها نه یی هغه د قرآن مجید لیکلې پاڼې راوغوښتلی او حضرت زید بن ثابت انصاری رضی الله تعالی عنه ته یی امر وکړ چی دغه پاڼې د مصحفونو په بڼه ولیکي، د ری تنه مهاجر اصحابان یې نور هم ورسره ملگری کړل، دغه وخت د ٥ هجرت پنځه ویشتم کال ؤ.ددوی مصحفونه تیار کړل، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د هر یو لوي ښار (بصری، کوفی، دمشق، مکی او مدینی) جامعو جوماتونو ته یو یو مصحف واستاوه چی مسلمانان یې یوازینی مرجع وگڼی او د قرآن مجید نوری پاڼی او مصحفونه دي ټول وسوځول شي، یو مصحف یې د ځان لپاره پریښوده چې مصحف امام ورته ویل کیده.

ب: سنت (حدیثونه): په دغه دور کی حدیثونو مبارکو ته دومره توجه ونه شوه بلکی خلفاوو راشدینو رضی الله تعالی عنهم د حدیثونو له لیکلو څخه په سختی سره خلك ایسارول، له هغوی سره دا ویره وه چی حدیثونه به له قرآن مجید سره گډ شی او بل دا چی مسلمانان به د قرآن مجید په ځای په حدیثونو مشغول شی، ځکه کله به یی د حاجت له پاره له کوم اصحابی رضی الله تعالی عنه د حدیث روایت وغوښت نو دا به یی هم ورڅخه غوښتل چی له تا پرته بل چا چی دغه خبره له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم څخه اوریدلي وي هغه هم راحاضر کړه چی گواهی ادا کړي، آن تر دې چې حضرت علی رضی الله تعالی عنه به د حدیث روایت کوونکی ته قسم ورکاوه که گواه به یی نه ؤ؛ په دغه دور کی د حدیث په روایت کی دومره ډیر احتیاط ددی لپاره هم کیده چی څوك دروغ پکښی گډ نه کړی او له دي کبله په دغه دور کی د حدیث روایت کم دی.

-اجتهاد په دغه دور کی پیل شو-

اجتهاد دې ته ویل کیږی چی مجتهد عالم خپل ټول علمی وس، توان په کار واچوی تر څو له شرعي دلیل(قرآن مجید او سنت) څخه شرعی حکم راوباسی؛

اجتهاد په دوه ډوله دی: یو دا چی د نص(قرآن مجید او حدیث) له ظاهرو الفاظو څخه د هغي ،مادثی(پیښی) حکم راباسی چی نص ورشامل وی؛ دویم دا چی د نص له معقول(مفهول شوی) طرف ته د هغې پیښې حکم را وباسی چی نص ورشامل نه وي مگر د نص د حکم لپاره په نص کی صریحاً یا د استنباط په زور معلوم شوي یو علت وی او هغه علت په رامنځ ته شوي حادثه کی هم موجود وی او دهغه علت په سبب د نص حکم دغی پیښی ته - چی نص ورشامل نه دی- ور نقل کړای شی، دغه عمل ته قیاس ویل کیږی.

په دغه دور کی مجتهدینو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم ته یوازی دا چی په فقهی مسائلو کښی یی د پیش بینی په ډول پراخوالی او ډیر بحث نه خوښاوه بلکي هغه یی بد گاڼه، کله به چی داسي حادثه پیښه شوه چی شرعي حکم به یي غوښت نو هلته به یې بیا فتوا ورکوله: له دی امله د لویو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم فتواگانی ډیری لږ را نقل شوي دي؛

دوي به په فتوا ورکولو کی لومړی په قرآن مجید تکیه کوله ځکه هغه ددین بنسټ دي او دوي ډیر ښه وریاندي پوهیدل ځکه: یو خو ددوی په مورنۍ ژبه نازل شوی دی او بل دوی ته د نزول اسباب ټول معلوم وو، په دی برسیره : په هغه وخت کی عجم مجتهدین هم نه وو.

که به یي په قرآن مجید کی د حادثی (پیښی شوي قضیی) حکم پیدا نکړای شو نو بیا به یی د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په سنتو کښی حکم ورته پیدا کاوه، که دغسی سنت(حدیث) به یی وموندلای شو چی د حادثی حکم به پکښی ؤ او په روایت باندي به یی اعتماد پوخ شو نو په هغه به یی فیصله صادره کړه؛

حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه ته به چی- دده په خلافت کی- قضیه(پیښه) د حکم لپاره راوړاندي کړای شوه لومړی به یی په قرآن مجید کی د هغی لپاره حکم لټاوه، که به یی پیدا کړ فیصله به یی صادره کړه او که نه نو بیا به یی په سنتو کی لټاوه که به یی وموند فیصله به یی صادره کړه او که نه نو بیا به یی له نورو اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه پوښتنه کوله چی آیا رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په دغسی قضیه کی څه فیصله کړی ده که نه! ډیر ځله به خبره داسي شوه چی ټول کسانو به ورته وویل چی هوا نو بیا به یی هغسی فیصله صادروله.

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه به هم په خپل وخت کی داسی کول که په قرآن مجید او سنتو کښی به دحادثی دحکم له میندلو څخه ستومانه او پاته راغلی نو بیا به یی پوښتنه کوله چی آیا ابوبکر رضی الله تعالی عنه په دغسی حادثه کی څه فیصله کړی ده که نه! که دابوبکر رضی الله تعالی عنه فیصله به یی وموندله او د دلیل په خلاف به ورته ښکاره نه شوه نو بیا به یی په هغه فیصله صادروله؛ همدغه رنگه وو حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله تعالی عنهما په احتیاط کی او د مخکښی فیصلی په منلو کی.

په تیرو دوو لسیزو، په افغانستان کی
د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

شاه جهان مرداری — (دوهمه برخه)

یادونه:

«په تیره گڼه کی مو هغه اسباب او عوامل توضیح کړل چه هند په افغانستان کی مداخلی ته هڅوی پدی برخه کی به په مختصر ډول په افغانستان کی د هندو سیاسی جنایاتوپه هکله لنډ معلومات وړاندی کړو. ک څه هم چه دایوه پراخه موضوع ده او دډیرو کتابونو لیکلوته اړه لری خوموږ به لنډه چه وائی امشت نمونه خروار) موضوع ته لنډه کتنه وکړو»

زمور په هیواد کی دکمونستی حکومتونو په موده کی په هند د مختلفو سیاسی ایډیالوژي لرونکی مختلف او متعدد حکومتونه تیر شویدی، که څه هم دوغه حکومتونو په پالیسیوکی یوتر بله ځه اختلافات او ځانگړتیاوی موجودی وی خو د افغانستان په اړوند دټولو دریځ یو ؤ،چی تر اوسه پوری د هند چارواگی په همانه دریځ ټینگ ولاړ دی او هغه دریځ ئی په نه افغانستان کی دولس سره دښمنی او ددی ولس د دښمنانو او پلوړل شوو ایجنټانو مرسته کول دی.

په افغانستان کی د کمونستانو د ثور کودتا وروسته هندی واکدارانو افغانی کمونستانو ته په زړه پوری سیاسی خدمتونه کړیدی. د کمونستانو د کودتا وروسته هغه دوهم ملت وه چه د (تره کی) کمونستی رژیم، یی په رسمیت وپیژنده او په بیړه سره ئی خپل سفیر چه (اتال بیهاری) نومیده کابل ته واستوه په کابل کی (بیهاری) او (تره کی) دیوی کتنی وروسته په گډه یوه اعلامیه خپره کړه او د هغې په ترځ کې ئی د دواړو هیوادونو تر منځ د گډي هر اړخیزي همکارۍ ژمنه کړیوه.

کله چه د (تره کی) او امین تر منځ تاو تریخوا لې زیات شو، په کابل کی د سفیر اسی کې، شنگ) په ډیر تلوار د هغو تر منځ د صلحی لړی پیل کړه، تر څو هغوی دواړه د ملت د مقابلی لپاره سره متحد کړی.

زمونږ په هیواد د روسی عسکرو یرغل هم د هند او روسی د گډ ئډهو په رڼا کی شوېوه. چه په هند کی د روس د هغه وخت سفیر (یولی فروتسوف) پدی کار اعتراف کوی او وائی چه په افغانستان د روسانو د یرغل په لومړی شپه هغه د هند د خارجه چارو سکرتر (رام سانی) ته ددی کار خبرورکړیوه.

د روسانو د یرغل څخه وروسته د هند دوخت مؤقتی حکومت چه پدغه ملت کې د انتخاباتو د څارنی لپاره جوړشویوه یوه اعلامیه یی خپره کړه او په هغې کی ئی پدی خبره اعتراف کړیوه چه روسانو د خپلی نظامی مداخلی خبر هندی مقاماتوته د یو رسمی لیك په ترځ کی ورکړیوه.

کله چه په هند کی ددغه حکومت د نظارت لاندی انتخابات ترسره شول او میرمن (گاندی) دچارو واگی په لاس کی واخستلې نو په ملگروملتوکی د هند سفیر (برادیش) د خپل حکومت موقف دا سې څرگند کړ چه: روسان افغانستان ته د افغان قانونی او مشروع حکومت په غوښتنه راغلی او که هر کله افغان حکومت له هغوی وغواړی چه له افغانستان څخه دی روسی فوځونه ووځی نو روسان وتلوته تیار دی(؟؟)

په همدی توگه نوموړی څرگنده کړه چه امریکا، چین او پاکستان د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخلې کړي او د افغاني اپوزیسیون سره مرستې کوي.

په جنوری ۱۹۸۰م کال کی چه د ملگرو ملتونو اسامبلی د افغانستان په هکله کومه فیصله وکړه او دهغی په اساس ئی د روسانو تیری دغندلو وړ وگرځاوه او د روسی فوځونو د فوری وتلو غوښتنه ئی وکړه د هند قاینده له هغی غونډی غائب شو او حاضر نشو.

میرمن (گاندی) د خپل صدارت په وخت کی په خپله لومړی بیانیه کی په افغانستان د روسانو تیری یو قانونی عمل وگاڼه او څرگنده ئی کړه وچه افغانستان ته د روسانو راتلل د هندی مقاماتو د خوښی سبب گرځیدلی او دوی ئی هر کلی کوی».

همدارنگه په افغانستان د روسانو دیرغل وروسته د مسکو او دهلی ترمنځ دیپلوماتکی لیدنی کتنی ډیری گرمې شوي چه په راتلونکی گڼه کی به پدی موضوع پوره رڼا واچوو.

په همدی توگه هندی واکدارانو به زیار گاڼه چه د نړی نور ملکونه په افغانستان د روسانو یرغل تائید کړی او دهغی ملاتړته ئی وهڅوی. لنډه دا چه هندی چارواگو په سیاسی ډگر کی زمور د جهاد او مجاهد ولس سره لوی خیانت کړی چه پورتنی ټول موقفونه ئی ددی خبری ښه ثبوتونه دی.*

معاصرترکیه

معاصره ترکیه په اسلامی نړۍکې د ملت پالنې او سیکولر افراطي افکارو په خپلولوکې ډیر وړاندی تللی هیواد دی. په اسلامی نړۍکی زیاتره ملت پال، غربي کلتور او افکار خوښوونکی خرځېتونه د ترکیې د مشر مصطفی کمال (اتاترك) د نظریاتو او افکارو څخه الهام اخلي. دوی مینه لري چی دلویدیځ په تقلید کې له اسلامی تهذیب او اخلاقو څخه ځانونه خلاص کړی او په ځای یې د لویدیځ کلتور او افکار غوره کړی، خو د پرمختگ او ترقی په ډگر کی دهغوی په شانی له (Creatiue) او اختراعی (Inaentive) عمل څخه یی برخې، او ملاوي یې ماتې دي، چی تر اوسه د خپلو هیوادونو په ارتقا او لورتیا باندي بریالي شوي نه دي، په دغه مضمون کی به اورستونکوته د ترکیبی په معاصر تاریخ کې دغه مشکلات په گوته کړو.

په ۱۹۰۹م کال کی د ترکیې ځوانانو انورپاشا، طلعت پاشا، جمال پاشا او داسی نورو د خپلو پټو اوښکاره مبارزو په نتیجه کې سلطان عبدالحمید له قدرت څخه لری کړ او سلطان محمود پنځم یی په ځای کیښناوه؛ هیواد د جگړو په اور کی وراوښله شو چی په ۱۹۱۲م کال کی د بالقان لومړی او دوهمی جگړې ترکیه تر سخت فشار لاندې راوستله، البانوی، بلغاری او یونانی اوسیدونکی سیمی د ترکیې له لاسه ووتلی د فرانسې او انگلستان په اشاره به عربانوله ترکیې څخه د آزادی او خپلواکی دپاره د ترکانو په خلاف کلکه مبارزه کوله. له بلی خوا ترکي ځوانانو د ترکیبی د سیاسی قدرت دبقا دپاره، عربانوته یو شمیر امتیازات و منل؛ لکه په اداری او قضایی سیستم کی د عربی ژبې استعمال او داسی نور، خو هغوی یی ددا ډول مراعتونو په ورکولو قانع نکړای شول او په دې توگه د عثمانی خلافت لمن له عربی نړۍ څخه راټوله شوه.

سلطان عبدالحمید د اسلامی نړی

د سیکولیریزم خطرته پام کوی!
په اسلامی نړۍ کې د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد» — څلورمه برخه

دیو والی په خاطر د پان اسلامیزم (Pan Islamisim) تحریك پکار واچاوه چی په هندوستان او مصر کې یې ډیر ښه استقبال وشو. ددی په نتیجه کی د ترکیې په دننه کې هم د ترکانو او ترکی فوځ په زړونوکی د اسلامی جهاد روحیه را ژوندی شوه چی ددښمن په خلاف یې د اسلامی عقیدی په برکت د قدروړ پرمختگونه وکړل د ازمیرلویه سیمه یې له یونانیانو څخه بیرته ونیوله.

خود عبدالحمید پان اسلامیزم په خلاف د «انجمن اتحاد و ترقی» ملت پال گوند چی د پان توراینزم (Pan Turanism) دملی تحریك تر اغیزی لاندې ؤ د مبارزی میدان ته راودانگل، چې غوښتل یې ترکیه د عثمانی خلافت یا سلطنت نه پرته د جرمنی او ایټالوي نشنلیزم په تقلید په ترکی نشنلیزم باندی د خارجی یرغل گرو څخه وژغوری، د ستر توران یالوی ترکستان د جوړولو مفکوره له روسیې څخه د راغلو مهاجرو ترکانو په واسطه ترکیې ته را دننه شوه چی د انجمن اتحاد و ترقی گوند هغې ته هر کلی ووېل.

مصطفی کمال دیوه فوځي منصب لرونکی په توگه په ۱۹۱۰م کال کی په فرانسه کی د فوځي اتشه په دنده مؤظف شوی ؤ، چی هلته د اروپایی تهذیب او کلتور څخه زیات متأثر شوی ؤ. هیوادته د راستنیدلو نه وروسته یی په ۱۹۱۵م کال کی د گیلی پولی په جگړو کی د زړور توب او ښه قیادت په لرلو زیات شهرت و موند. مصطفی کمال د انجمن اتحاد و ترقی د گوند غړی وو. کله چی په ۱۹۱۸ م کال کی ترکیې ا[illegible] په نړیواله جگړه کې ماتې وخوړه، پخوانی وزیران او مشیران دهیواد په پرېښودلو باندی مجبور کړای شوی. برطانیې او اتحاد یونو استنبول تر خپلې واك لاندې راووست په اناطولیه کې سخته گډوډی را مینځ ته شوه، په دی وخت کی یی میدان مصطفی کمال ته خوشی کړ.

په ۱۹۱۹م کال کی یې د سقاریه په مقام کی یونانیانوته سخته ماتې ورکړه او د ازمیر منطقه یې له یونانیانو څخه بیرته ترلاسه کړه، مصطفی کمال په ټول هیواد کی د غازی په نوم باندی مشهوره شو. د خلکو د امید سترگی په ده کی شوی، دهیواد ټولو ډلو او طبقو دده مرسته او ملاتړ وکړ څو وکولای شی هیواد ته له دغه بدحال څخه نجات ورکړی.

خو د فتح او کامیابی نه وروسته مصطفی کمال، د ۱۹۲۲م کال د نومبر په لومړی نیټه د ترکیې د لویې ملی جرگی (Great National Assambly) په واسطه رسماً د عثمانی خلافت د پای ته رسولو فیصله صادره کړه او په ځای یی دترکیې جمهوریت اعلان کړ. د سلطان ټول اختیارات یی لویې ملی جرگی ته وسپارل. وحیدالدین محمد شپږم د لویې ملي جرگی د پریکړی سخت مخالفت وکړ خو هیڅ نتیجه یې ورنه کړه. ځان یې په خطر کی ولیده د ۱۹۲۲م کال د نومبر په اوولسمه په یوه برطانوی بیړۍکی مالټا ته روان شو، او له هغه ځای څخه مکې مکرمی ته ولاړ، چی هلته یې دیو سلطنتی میلمه په توگه استقبال وشو. دغه‌رعثمانی خلافت وروستنی شاهی استقبال ؤ، چی له دی نه وروسته عثمانی سلطنت (خلافت) د تل دپاره له نړۍ څخه رخصت شو.

د وحیدالدین محمد شپږم له تښتیدلونه وروسته، لویې ملی جرگی د خلکو د غولولو په خاطر د هغه د تره زوی عبدالمجید ثانی د خلافت په گدی باندی کښیناوه او دایې ورته وویل چی هیڅ ډول تصرفات نشی کولی، یوازې دینی مراسم په ځای کولی شی. د ۱۹۲٤م د مارچ په ۳ یې په عبدالمجید ثانی باندی په تحریری توگه د لویې ملی جرگی حاکمیت او واکمنی ومنله او له دی نه وروسته یی عثمانی کورنی د ترکیې څخه جلا وطنه کړه. او مصطفی کمال (اتا ترك) د لوی ملی جرگی له خوا د ترکیې د لومړی رئیس جمهور په توگه انتخاب شو.

دترکی ملت پالانو افکارو

د ترکی د ملت پالنی فکری او نظریاتی معمار او لارښود «ضیاگوك الپ» و، چی ترکانوته یی د اسلامی تمدن په خلاف به خالص قومی او ملی بنیادونو باندی د جوړولو بلنه او لارښوونه کوله. (٤مخ)

ملی گرایی در خدمت صلیبها

عبدالرحمن احمد هوتکی — (قسمت هشتم)

بعد از اینکه روسها به هزیمت و شکست نظامی مواجه شدند و از افغانستان فراری گشتند و رژیم دست نشانده کمونستی روسها هم روز تا روز چانس بقاء و حکم روائی را در مقابل مجاهدین از دست میداد و تضمین بقای آن بر اریکه قدرت از حوصله، نظامی، مالی و سیاسی روسیه شکست خورده بر آمده بود بالاثر مصمم شد که بقایای تجاوز خود (حکومت نجیب) را از صحنه رخصت نماید و ظاهراً زعامت و رهبری سیاسی کشور را بدست مجاهدین قرار دهد و گریبان خود را از دست مجاهدین و فشارهای روز افزون داخلی و قسماً خارجی برهاند که چنین کرد، اما به هیچ صورت حاضر نبو دکه جای خود را در افغانستان و منطقه خالی ببیند و حکومتی در افغانستان به وجود بیاید که از مرکزیت و تسلط همه جانبه بر کشور برخور دار و توانسته باشد که از روسها اعاده، حقوق غضب شده ئی کشور خود را نموده و تقاضای تاوان جنگ نماید، و روسها را به میز محاکمه بکشاند و یا لااقل تقاضای محاکمه، آنرا در محاکم و مراجع بین المللی نماید و بسطح داخلی کشور به یگانه آرزو و هدف مقدس ملت مسلمان افغان و مجاهدین قهرمان آن (حکومت اسلامی) جامه، عمل بپوشاند و بعد از گذشت دها سال نظام و حکومتی در روی زمین در نتیجه، جهاد عرض اندام نماید و الگوی برای همه، امت اسلامی و مستضعفان جهان کرد. و لکه، عارو ننگ که ردامان امت اسلامی از توطئه های صلیبیت رنگ گرفته بود زدوده گردد که برای کفا‌رصلیبی و ماسونیزم بین المللی هم این پیش آمد گوارا و قابل هضم نبود.

لذا برای جلوگیری از حکومت اسلامی جهادی در کشور و بازتاب جهانی آن روسها با مسعود داخل معامله گردیدند و البته مقدمات و پیشبینی های این معامله در وقت موجودیت مستقیم قشون روسی در افغانستان قبلا چیده شده بود، و برای پیاده کردن هدف خود روسها تنها توان نظامی و مردمی مسعود را کافی ندانستند، و یا در آینده ها هراس داشتند که حکومت و اداره، مسعود که ظاهر بخشهاي اداری و سیاسی آن باید از همه، گروهای مجاهدین تشکل پیدا نماید به محور جهاد و نفع اسلام نچرخد و یا روی علاقه، دیرینه، مسعود با حلقه های غربی حکومت که به ابتکار و نیروی نظامی آن بکار آمده و متکی باشد بنفع غرب نچرخد و تهدیدی برای منافع روسیه در منطقه نگردد، روسها خواستند که با ایجاد رابطه و همکاری میان مسعود و شبهه نظامیان ملیشه که اکثر به قوم ازبك ارتباط میگرفت و از نیروی رزمی خوبی برخوردار بودند و نیروی ملیشه ئی شبهه نظامی دیگری که از نیروی قابل ملاحظه نظامی برخوردار بودند (ملیشه های شیعه مذهب) که اکثر به قوم هزاره ارتباط پیدا میکردند و ارتباط و ابتکار تشکل آنها بدست سلطان علی کشتمند بود و موقعیتها خوبی نظامی را در شهر کابل وحومه، آن بدست داشتند، و بعداً اکثر آنها جزء نیروی حزب وحدت قرار گرفته و حزب وحدت یك از جناح های عمده، نظامی در شهر و حومه، کابل گردید و قسمتی دیگر اوشان درنیروهای حرکت اسلامی محسنی جای گرفتند، و گروه دیگری ملیشه های شیعه مذهب گروهای ملیشه کیان را تشکیل میدادبه اینصورت از احتمالات پیشبینی شده جلوگیری نماید.

قابل ذکر است که از قبل ارتباط و علاقه، نزدیك و فعال میان ملیشه های متذکره و مسعود موجود نبود که آنها رأساً و بدون میانجی قادر میشدند که در کنار هم دیگر قرار گیرند و بریکدیگر اعتماد نمایند، که این عملیه نزدیك سازی و ائتلاف توسط ایران انجام پذیرفت و نشستهای تهران، مزارشریف و بالاخره جبل السراج به آن رنگ داد و عملاً یك ائتلاف از جمعیت، حزب وحدت، ملیشه های ازبك، ملیشه های کیان و اکثریت جناح عمده ئی حزب کمونیست (پرچم) را بطور غیر رسمی آن هم دیرتر میگرفت به میان آمد، و اکثریت جناح عمده، دیگر حزب کمونست (خلق) که اکثراً از پشتونها تشکیل یافته بود در کنار حزب اسلامی قرار گرفتند.

متأسفانه این ائتلاف همه، احزاب جهادی را در تشکیل دولت غالباً به اثر فشار پاکستان به خود کشید و در خود هضم نمود و حکومت غیر جهادی به رنگ جهادی به میان آمد و ثمرات ملی و ستراتیژیك توطئه ها علیه جهاد و مجاهدین علنی گشت (جلوگیری از حکومت جهادی) روسها مؤفق شدند که از آمدن حکومت و نظام مرکزی مقتدر اسلامی در همسایگی خود که از آن تهدید و دشمنی محسوس کند جلوگیری نمایند.

این حکومت ائتلافی که مبتنی بر عصبیت قومی و لسانی به رنگ جهادی بود اصلاً قادر نشد بسطح ملی و بین المللی در سیاستهای داخلی و خارجی خود ثمره، از ثمرات جهاد و حکمی از احکام دین را به مردم خویش و امت اسلامی به (ص۳)

په ژوندانه کی دامن او اطمینان ارتیا

س، کنړی

ېمان، امنیت، اطمینان او ونفس سکین هغه ارزښتناکه مفاهیم دی چه د لسان ژوند ته ښکولا وروکوی، انسنی ټولنی دپرمختګ په لور بیائی، بشر د ژوندون په خوږو پوهوی او د اجتماع‌دسوکالی او وړاندیوالی اسوب برابروی.

که څه هم داغوره اصطلاحات لفظا یو بل څخه سره لریوالی لری ولی دداو ټولو تر منځ یو ډول ټینګه رابطه موجوده ده چه هغوی سره نښلوی.

که څه هم ایمان د تصدیق په معنی دی ولی ډیر کله دا کلمه د نفس داطمینان مفهوم ادا کوی، او داخو معلومه ده چه امن او امنیت د ظاهری اطمینان څخه عبارت دی چه د ډار ضد دی. پس ایمان د قلبی اطمینان په معنی دی او امن یا امنیت د ظاهری اطمینان معنی لری.

هر مؤمن مطمئن دی ځکه د ایمان لومړی مرحله تصدیق دی چه وروسته اطمینان منځ ته راوړی. څرنګه چه امن د بشری برګنو د ژوندانه بنسټ ګڼل کیږی نو د اسلام مقدس دین دانسانانو دی لوی اړتیاته په زړه پوری پاملرنه کړی، امن او دهغی نور مفاهیم د قرآن پاك په سلګونو آیتونو کی ذکر شوی، امن د آسمانی رسالتونو اساسی دنده ده او همدا سبب دی چه کله ابراهیم علیه السلام خپل رب ته د بیت الحرام په هکله دعا کوی نو وائی چه ای خدایه دا ښار د امن ښار وګرځوی. همدا راز کله چه د

یوسف علیه السلام سره خپل خواړه والدین یو ځای کیږی نو دعاورته کوی چه خدای ئی د امن له ژوندون څخه برخمن کړی.

کله چه لوی خدای، حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) ته په قرآن پاك کی د خپلو پیرلویښو یادونه کوی نو د بدر په غزا کی ورته د هغه ډار یادونه کوی چه د هغه د دښمنانو په زړونوکی ئی اچولی وه، او هغه اطمینان وریادوی چه دده او دده دملګرو په زړونوکی ئی اچولی وه.

په همدی ډول د احد په غزاکی کله چه مسلمانان په شاشول نو خدای پاك دیوی ډلګی مسلمانانو په زړونوکی آمن او اطمینان پیدا کړ همغه ؤ چه هغوی ثابت پاتی شول او دښمن ئی مات کړ چه لوی خدای خپل دا احسان هم رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته وریاد؟ ی.

لنډه دا چه امن دلوی خدای یو ستر نعمت دی او هغه څوك تری برخمن وی چه خدای وریاندی احسان کړیوی، خدای ته خوښ وی او د خدای حقیقی او رښتونی بندګان وی.

نو ویلای شو چه یوازی اسلامی ټولنه ده چه خدای پری د دی ستر نعمت پیرزوینه کوی او د سپیڅلو مسلمانانو پرته نور هیڅوك داسی نشته چه د ظاهری او قلبی امن او اطمینان څښتنان وی او مطمئن ژوند دی ولری.

اسلامی ټولنه ځکه د امن او اطمینان څښتنه ټولنه ده، چه لوی

خدای(ج) پخپله د هغوی د ژوندانه د تیرولو لپاره ځانګړی قوانین ټاکلی چه همدغه قوانین او اصول دی چه بشری ټولنې د حیوانیت او وحشت څخه انسانیت ته راوړی،

د شرعی حدودو یوازینی حکمت همدادی چه انسانان په امن او اطمینان کی ژوند وکړی، د ژبی هغه افات چه د انسانانو تر منځه خوږی اړیکی په تریخوالی بغض او کینی بدلوی اسلام حرام ګرځولی چه دهغی څخه کولای شو غیبت، بهتان او ... ته اشاره وکړو،

زموږ د هیواد تیرو نږدی دوه لسیزو انکشافاتو دا را څرګنده کړه چه یوازی اسلام دی چه د بشریت د ژوند امن او اطمینان تضمینوی،

د کله نه چه زموږ په وطن غیر اسلامی نظامونه مسلط شوی له همغی ورځی زموږ هیواد وال د امن د نعمت څخه محروم شویدی او هغه کړاونه او ربړونه ئی لیدلی چه په بشری تاریخ کی سابقه نلری، او دغه کړاونو یوازی هغه وخت پای ومونده او زموږ د ولس ګې شمیر وګړی تری هغه وخت خلاص شول د کله نه چه دهغوی په منطقوکی طالبانو د اسلامی تحریك په لاس اسلامی حکومت او شرعی نظام پلی شو، د طالبانو د اسلامی تحریك را ښکاره کیدو دا په اثبات ورسول چه یوازی اسلامی نظام دی چه د انسانی ژوند ښکلا تضمینوی او بس او یوازی اسلام دی چه د بشر ستونزی او کړاونه ختمولای شی او بس.

تیراختر

ملااسدالله «حنیفی»

بیا تیر شو اختر د پیښور دښتو واګوتو کښې
نشته خوشحالی دی غم لړلواخترونو کښې
راغی بیا اختر کور او کهول دمهاجروته
تیر دسترګو رپ کښې شو دکونهو فریادو نوکښې
کله بي تکور کړ له ټپونه د افغان اولس
تیر شو ځیګرخون دمهاجروپه کمپونوکښې
داچی غم ماتم کښې ولاړه تیرهم په ماتم کښې شو
وایی نه وفو مووته خوشحالی‌داځوکلونو کښې
کله به راځی دسولی، امن، د خوښی اختر
څه کوو داختر چی ځی راځی پردو ملکونو کښې
ربه په کابل کښې سپین بیرغ د امن پورته کړې
بیاچی ځای په ځای شي افغانان خپلو کورونو کښې
ډیر کلونه وشول اخترونه غم لیږلي دی
خدایه نوربی راولی خوښیو او جشنونوکښې
لیکی (حنیفی) مدام ویرنی په کاغذ باندی
ربه ورته ورکړی جاویدان ژوند جشنونوکی

الحاج الجنیر محمد ظاهر «بارکزی»

غـــزل

تا د عقبا په ځای دنیا کړه اختیار
ماد رندی په ځای تقوی کړه اختیار
ستاد توبی په ځای حرص شو غالب
چه له رعدي نه دی مدعی کړه اختیار
لکه چه ګټه دی وفا کښي نه وه
ځکه وفا نه دي جفا کړه اختیار
چه ویش د نغدو او جنت راغی
تا د توبی په ځای ګناه کړه اختیار
اخیر به پاتی‌بی اشنا شی یاره
چه اشنائی دی د هرچا کړه اختیار
د سر په بیه به تمام شی درته
که د حق ویلو دی وینا کړه اختیار
د «بارکزی» دي لیونتوب ته ګوره
له عیش اونوش بی استغنا کړه اختیار

د ادب ملغلری

محـــمـده!

عزیز الله صدیق وردګ

ستانه مخکې تپ تیاره وه آن زمان کې
ته سپین لمر شوی چی راوختې آسمان کې
جواری، قتل، زنا پکې رواج وو
ناپوهی وه سراسر پدې جهان کې
برده ګیر او غلامی وه پکې زیاته
جهالت ؤ په مغزو د هر انسان کې
ژوندی لوڼه خښولي زیاتو خلکو
دغه درس ؤ په مکتب او دبستان کې
خدای خپل فضل په انسان باندې اعطا کر
چی نبی خیرالانسان راغی جهان کې
دی سردار دی د همه وو رسولانو
چی صفت یی بیان شوی دی قرآن کې
ستا مزار به کله وینم په سترګو
زه«صدیق وردګ»به ومرم دی آرمان کې

* * * * *

دکائناتو رحول

(الفت)

یوه ورځ ووما لیدلي دا باغونه
نه داشنه بوټی پکې وو نه ګلونه
تولي وني یې سپیرې په یوه شان وې
بې میوی بې طراوته هغه آن وې
نه بادام شګوفه کړی او نه تاك وه
نه داشنه قبا په غاړه کښې دتاك وه
نه دګل له بوټو ښه وږمه راتلله
نه له ونو دمیوې طمعه کیدله
چی موسم د نوی ژوند او بهار راغی
چی پالنې ددی باغ ته مالیار راغی
توجه چی دغه باغ ته باغوان وکړه
چی روزنه ددی بوټو انسان وکړه
بوټو سرجګ کړ له خاورو را اوچت شوه
مخ په لور دترقی او درفعت شوه
هر یو بوټی خپل ګلونه را ښکاره کړه
چی بی ټول خلق دګان په ننداره کړه
باغ سمسور شو میوه ونیوله ونو
نیالګی لوی شو، د دهقان په پام لرلو
استعداد دهر یو بوټی شوځرګند
میوو هم ټولو ښکاره کړ رنګ او خوند
دغه شان وګڼه حال دیو ملت هم
لکه باغ لری خزان یو مملکت هم
په هر چا راځی دارنګه موسمونه
د ذلت او انحطاط بعضی دورونه
مګر کوم تاسیر په باغ کښی باغبانان کړی
دا شلم قرن موسم د اعتلا دی
دعرفان شین پسرلی او سپین سبادی

طالبان څوك دی او څه غواړی؟

د خوست ولایت دعمری زغروال څواك مسؤول طالب العلم رحمت الله فاروقی

دکله نه چه د طالبانو اسلامی تحریك را پیدا شوی دی نو که څه هم د هیواد عامو خلکو ته داشك نه ده پیدا شوی او نه دا اعتراض کوی چه دا طالبان نه دی مګر یو تعداد جاه طلب او قدرت طلبه او د استعمار ګرواګیان ددی لپاره چه خپلو باداراتو ته ځان وفادار معرفی کړی، داشك را پیدا کوی او داګنګوسی غږوی چه دا طالبان نه بلکی د پاکستان لخوا تربیه شوی تخریبکاران، یا د ظاهر شاه پلویان او یا کمونستان دی. خو لومړی باید ووایو چه ددی خلکو دا خبره د خپل ځان جوړه کړی پروپاګنده ده او که بل څا غولولی او یوبل بادار خبری تعبیر وی، زما په فکر د امریکایانو د هغه خواب تعبیر ده چه په کومه ورځ طالبانو د اسلامی تحریك قهرمانو ځواکونو د سپین بولدك ولسوالی وه نیولی د واشنګټن رادیو په ماشامی خبرونه کی وویل چه په قندهار کی دطالبانو په نوم یوه ډله راپیدا شوی مشربی ملامحمدعمراخند ده. او شپږ سوه نفر لری نوموړی رادیو وویل زموږ په فکر دا د پاکستان په مقاماتو پوری مربوط او یا د افغانستان د پخوانی پادشاه ظاهرشاه نفر دی رادیو داهم وویل

که په افغانستان کی وړی ډلی حساب کړو دا ووه اویایمه ډله ده او که لویو ډلوته وګورو نو دا اتمه ډله ده او ددی ډلی په را پیدا کیدو سره به دافغانستان ستونزه حل نه بلکی د جنګ لمن به نوره هم پراخه شی، دلته یوه وړوکی قصه ذکر کول غوارم، زموږ یو استاذ راته خبره کوله چه زه په درس کی اوسیدم نو زموږ د ملګرو دا عادت وو چه هرڅه به مو پاخه کړل و به موخوړل نو چه کوم یوه ملګری‌څه خبره وکړه هغه بل به ورته ویل داته نه غزیږی کچالو یا مثلاً دال غزیږی یوه ورځ داسی راغله چه زموږ یوه مشر ملګری دغوایی سر راوړی ؤ کله چه مو پوخ کړو او وه مو خوړل نو هغه طالب څه خبر وکړه استاذ وویل ماورته وویل داته نه غزیږی دا ده غوایی سر غزیږی مطلب داچه کوم کسان طالبان کمونستان د ظاهرشاه پلویان او یا د پاکستان ګرواګیان بولی داده دوی خبری نه بلکي دا دوی د بادارانو خبري دي او دا هغه ډالر او کلداری غزیږي کوم چه دا دولس کاله دوی ته امریکایانو او یاتورو استعمارچیانو ورکولي ګنی دوی په دی ښه پوهیږی او ښه یی پیژنی چه دا هغه طالبان او عالمان دی کوم

چه د روسانو او کمونستانو په خلاف یی دجهاد اعلان کړی وو، او دا هغه د شهید پرور هیواد زیرمه او دکونهو یتیمانو د سترګو مرجع ده کومو چه په اول قدم کی د اعلاء کلمة الحق په خاطر یی خپله وینه ورکړه او دا هغه پاکه طبقه ده‌تأسف او بدبختی څخه ډکه خبره ده کومه چه د اسلام ستر پیغمبر محمد(ص) خپلو صحابه کراموته وشودله، یوه ورځ نبی کریم(ص) له صحابه کرامو سره ناست وه وی فرمایل من احبی فلیکرم صدیقی قالومن صدیقك یارسول الله قال طالب العلم څومره د چه د خدای(ج) پیغمبر یی دځان دوستان بولي او دکورسی‌لیونیان او د غربیانو او شرقیانو پیروان ورته د انګریزانو پلویان یا کمونستان وایی. اوس دا فیصله باید لوستونکی وکړی چه آیا پروپاګندی والا دخدای(ج) دښمنان دی او که طالبان، ددوی سترګی د حق څخه ړندي او غوږونه یی د حق اوریدلو څخه کاڼه دی د قدرت او پیسو طمعی یی په غوږونو اوسترګوکی ځای نیولی ده، دطالبانو تحریك هدف هرچاته ښه معلوم ده چه شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم او الهی قانون غواړی.

ملی گرایی در خدمت ...

ارمغان آورده ونشان بدهد، بلکه از همان آغاز این ائتلاف نامیمون به مخالفت و اقدام نظامی حزب اسلامی به همکاری نیروهاي مسلح حزب کمونیستی خلق که در کنار حزب اسلامی قرار گرفته بودند، قرار گرفت که با گذاشتن تلفات جانی و مالی زیادی از طرف ملیشه های ازبك و اندیوالان شوری نظار شان به شکست مواجه شدند و شهر کابل را ترك و در حومه های آن سنگر گزیدند و اولین فجر صبح پیروزی به اصطلاح مجاهدین، خونین ترین و بی عفت ترین مقطع تاریخ کشور ما را تشکیل داد و

عملاً مجاهدین را مقابل هم قرار داد و حادثات و رویداد های غیر انسانی و غیر اسلامی بعدی آن الی یومنا هذا همه را معلوم و هویدا بوده و به این شکل کفار صلیبی‌وروسها از باروشدن جهاد و انقلاب اسلامی ما جلوگیری نمودند و بعد از سقوط خلافت اسلامی عثمانی که اثرات بدی آن همه مسلمین را به خود پیچید و زعامت تقریباً واحد امت اسلامی را به واحد های مختلف و مخالف قومی تقسیم داشت، بدترین و تراژیدی ترین دوره، تاریخ معاصر اسلامی و مسلمین را سقوط بزرگترین انقلاب

جهادی اسلامی کشور ما تشکیل میدهد که قربانی و شکار هوسهای برتری قومی و لسانی گردید و تاریخ را تکرار داشت. بدی نخواهد بود که به عقب برگردیم و ناسیونالیزم (ملی گرائی) را از نگاه تاریخی آن عبور سر سری کرده ببینیم که ملی گرائی در طول تاریخ چه ارمغان برای جامعه، بشری و به خصوص جامعه، اسلامی باخود داشته است. ناسیونالیستها (ملی گرایان) ناسیونالیزم را از نگاه تاریخی به دوبخش تقسیم کرده اند.

الف: ناسیو نالیزم طبعی
ب: ناسیونالیزم شعوری ویا ارادی.

دسید آباد په شرعی محکمه کی دیوی حقوقی دعوی خلاصول

مستند سترګو لیدلی حال - د طالبانو د اجراأتو یوه بیلګه

احسان الله «آرین زی»

تر هر څه د مخه د افغانستان خلکو، د طالبانو اسلامی تحریك او ددغه تحریك فاضل مشرتابه ته د (شریعت اوونیزی) د خپریدو له امله د زړه له کومی مبارکی وایم. هیله لرم چی ددی درندې اوونیزې چلوونکی دلوی خدای(ج) په فضل پخپلو اسلامی او ملی چاروکی دپوره کامیابی خاوندان او د دارینو اجر ترلاسه کړی.

د (شریعت اوونیزی) په خلرمه ګڼه کی له لوستونکو څخه د طالبانو د اسلامی تحریك په اړوند څو پوښتنې مطرح شوې وې، چی یوه پکی د طالبانو له سیمو او کار څخه د خلکو د برداشت موضوع وه،

زه چی د افغانستان د مطبوعاتو په آسمان کی ددغه نوی ځلانده ستوری لوستونکی او دهیواد د استوګن یا نا استوګن فرهنګی بهیر یو بیوسه ملګری یم، ددغه یاداشتګی په لوستلو سره وهڅیدم چی د طالبانو ترکنترول لاندی په یوه سیمه کی دیوی حقوقی قضیی دحل په ارتباط خپل سترګو لیدلی حال په واقعی او مستند ډول تاسوته ولیکم.

دا موضوع د وردګو ولایت د سیدآباد په ولسوالی کی واقع شوی ده، لومړی به د اصلی خبری په هکله سوابق راوسپړم او بیا به د طالبانو د محکمی داجراأتو لنډیز وړاندی کړم.

په ۱۳٤۷ کال کی د(چهاردهی) دکلی اوسیدونکی، محمد عمر د پاېوجان زوی، د اطربو دکلی له اوسیدونکی خلیل الرحمن ولد خان زمان ولد عباس خان څخه یو (چارك) ځمکه په یواویا زره افغانیو اخستی ده، په ۱۳٤۸ کال کی ددغه معاملی په ارتباط لاندی شرعی اسناد اجرا شوی دی:

۱- د کابل دښاری محکمی ۱۳٤۸/۷/۲۰ ،٤۹/٤۳۳ شرعی وکالت خط، چی د هغه له مخی بی بی حوا بنت خان زمان بنت عباس خان خپل ورور خلیل الرحمن ته د خپل وکالت عام و تام صلاحیت ورکړی دی،

۲- دکابل دنوی ښار د ابتدائیه محکمي ۱۳٤۸/۷/۲۸ .٤٥/٤٦۳ شرعی وکالت خط چی دهغه له مخی بی بی نازو بیګم بنت خان زمان بنت عباس خان، خپل ورور، خلیل الرحمن خپل عام و تام وکیل ټاکلی دی،

۳- د وردګو ولایت د سید آباد د ابتدائیه محکمی ۱۳٤۸/۸/۱۰ ،٥۱٤/۳۰ شرعی ابرأ خط چی د هغې له مخې نوموړی خلیل الرحمن «ذکر حدود همګی و تامی موازی یك چارك زمین مزروعی از جمله سی و دوسهم مشاع واقع قریه (اوطری) تحت قنات شایی به معه یك چارك آب از کاریز مذکور که مالیه سنویه آن سی و سه افغانی میباشد...» خپله ځمکه په محمد عمر نومی باندی د خپلی خوا اصالتاً او دخپلو موکلینو لخوا وکالتاً خرڅه کړی ده،

داځمکه روانی اوبه نلری. په کال ۱۳٥۸ کی محمد عمر دی ځمکی ته کوچی وکینده، همدارنګ شاوخوا خلکو هم کوچیان وکیندل، ځمکې په حاصل راغلې او قیمتونه یی څو څو چنده جګ شول، تر ۱۳٦٥ کال پوری همدا ځمکه د (اطربو) د کلی غلام دستګیر، لواتی او نورو ته په اجاره ورکول شوی وه خو د ۱۳٦٥ کال نه وروسته خلیل نومی چی اوس نو حاجی شوی او تنظیمی ټوپك یی غاړی ته اچولی و، له خپل موقف او په سیمه کی د نظام او اداری دنشتوالی له امله په نوموړی ځمکه باندی خیټه واچوله او دځمکی شرعی مالك محمدعمر یی دحرکت انقلاب اسلامی، (مولوی صاحب قدیم، مولوی صاحب محمد حسن) حزب اسلامی (آمر صاحب سلیمان شاه) اتحاد اسلامی (دګروال صاحب بسم الله) او نورو جهادی تنظیمونو مراکزو ته په تګ راتګ لالهانده او سرګردانه کړ. حاجی خلیل الرحمن دا وخت ویل چی محمدعمر نومی له ماسره (اقاله) کړی ده، زه اوس پولداره یم، دده یو اویا زره روپی بیرته ورکوم، نور نو د ځمکی معامله ختمه ده او زه خپله یی مالك یم.

دي لانجی د طالبانو د اسلامی تحریك تر راتګه پوری د حاجی خلیل الرحمن په ګټه لس کاله دوام درلود او دځمکی حاصل به د حاجی خلیل کورته روان و. او د طالبانو اداره ټینګه شوه، دوخت د ایجاباتو سره سم په ولسوالی کی د څارنوالی، قضاء، امنیت او نورې ضروری ځانګې فعالې او خپل کارونه یی پیل کړل.

ددی کرښو لیکوال چی د مرحوم حاجی محمدعمر زوی یم، حاجی خلیل ته مراجعه وکړه، په تنهایی کی ور ته کیناستم، خپل، خپلوان می پری راټول کړل. دکلی سپین ږیری (معلم حاجی درانی، خوازك، حاجی حیات خان کچل، ملامولا نور او نورا) می ورته جرګه کړل خو ده، جرګ همغه یوه ښه درلوده او نه یی غوښتل چی دا غوږه خو ناحقه ګوله په مفته له لاسه ورکړی. دده د غوښتنې او د کلیوالو د فیصلی له امله زه د سیدآباد ولسوالی ته عارض شوم (۱۳۷٤/٤/۲)؛ ولسوال محترم قاری فیض محمد ډیر آرام سړی و، د عارض خبرو ته یی تر آخره غوږ نیوه. ولسوال موضوع قضاء ته راجع کړه. هلته دوه تنه قاضی صاحبان موجود وو؛ یو دغزنی وچی اوس یی نوم راته هیر شوی دی، بل محترم قاضی ګل محمد چی دهندی ولسوالی اوسیدونکی دی او ډیر کاله یی دالتحاد اسلامی له محترم تنظیم او یوی عربی موسسی سره په کوټه کی کار کړی دی.

محکمی حاجی خلیل الرحمن محترمانه راجلب کړ. زما خبری او اسناد او د حاجی خلیل الرحمن خبری یی واوریدی. قاضی صاحب ګل محمد وغوښتل چی داموضوع د روغی او قومی جرګی له لاری حل و فصل کړی، ځکه نو د (اطربو) د کلی جومات ته راغی، له ټولو حاضرینو څخه یی چی د حاجی خلیل خپلوان او تربرونه او زما

ماماخیل وو، پوښتنې وکړی، بیایی پریاسیو مشرانو سرپیره (حضرت محمد، شیر ګل، سلطان او سید حبیب) ته وظیفه ورکړه چی دا لانجه څرګنده کړی او خپل نهایی تصمیم کتبی محکمی ته واستوی (۱۳۷٤/٦/۱) د سنبلی په دوهمه نیټه دا کسان د حاجی خلیل الرحمن په حجره کی راټول شول. له دی کسانو څخه څینو څو څو ځلی په ډیر صراحت حاجی ته ویلی وو چی په دی قضیه کی ملامت یی، دلته یی هم همدا خبری ورته وکړی او د (اقالی) سند یی ګڼی وغوښت، ده چون دلیل، برهان، منطق او سند نه درلود، د خبری لوری یی بدل کړ او په ډاګه یی وویل چی دا د حاجی محمدعمر مرحوم ټول اسناد جعلی او باطل دی او زه یی نه منم، د مجلس حاضرینو همدا محضر ولیکه او سبا می محکمی ته وړاندی کړ.

البته دا خبره باید یاده کړم چی ټول جریان داسی ساده نه تیریده، تردی وخته اقلاً شل ځلی محکمی او ولسوالی ته حاضر شوی وم. قاضی صاحب بیاهم حاجی خلیل وروغوښت او څه مسایل یی ورسره مطرح کړل چی زه پری خبر نه شوم. خو دواړه یی د سنبلی په نهمه یو ځای محکمی ته وغوښتو.

په معین وخت موږ محکمی ته حاضر شولو. هلته له نوبت سره سم قاضی صاحب ګل محمد دواړوته وویل چی په قضایي غونډه کی ستاسو په موضوع بحث او اسناد بررسی شول. بیایی حاجی صاحب خلیل الرحمن ته مخ واړاوه او وی ویل چی دمرحوم حاجی محمدعمر د زوی احسان الله شرعی اسناد په قطعی توګه صحت لری، دجعل او تزویر نښې پکي نشته او دا دعوی دوران ته ضرورت نه لری. ځمکه داحسان الله ده او ته ورسره کار مه لره. داوخت حاجی خلیل الرحمن اعتراض وکړ چی قاضی صاحب زما (دومره) (خپله خبره یی وشلوله) قرآن نه منی او دده د قبالی (دومره کی) (٤مخ)

د ترافیکی چارو د سمون لپاره کمیسیون جوړ شو

د کندهار نه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چې د طالبانو د اسلامی تحریک د عالی شوری دپریکړی سره سم دترافیکی نظم په منظور یوباصلاحیته کمیسیون جوړ شو. د کمیسیون غړی حاجی ملامحمد عباس اخند، دکندهار ښاروال، د امنیتی قومندانی مرستیال مولوی اختر محمد اخند، حاجی ملا عابد الله اخند د ټرانسپورت رئیس او د کندهار د ترافیکو مشرتاکل شوی دی. کمیسیون په بیلا بیلو موضوعاتو مفصلی خبری وکړی او هم یی یوه ترافیکی لایحه تصویب کړه.

دهرات د ولایت په مقام کی یوه درنده غونډه جوړه شوه

هرات حوت ۱۹

د هرات د ولایت څخه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چه د تیری شنبی په ورځ دغه ولایت په مقام کی یوه درنده غونډه وشوه، خبریال زیاتوی چه غونډی ته دولایت مسؤلو مقاماتو ارزښتناکی او هر اړخیزی وینااوی وکړی.

- خبریال لیکی: په غونډه کی دولایت د ګنی شمیر اوسیدونکو څخه علاوه دهغه ولایت دمختلفو ولسوالیو ولسوالانو هریو مولوی صاحب محمدمحسن، مولوی صاحب حاجی عبدالعزیز، مولوی صاحب دین محمد او مولوی صاحب نعمت الله هم ګډون درلوده.

خبریال زیاتوی: دغونډی په پای کی تولو برخوالو د ولایت مقام ته دخپل متدین ولس د همکاری ډاډ ورکړ.

د غونډی په ترڅ کی د ولایت مسؤول مقام نومړو ولسوالانو ته دخپلو دندو او امنیتی چارو په ښه سمبالتوب ټینګار وکړ او پدی اړوندی هغوی ته هر اړخیزی لارښوونی وکړی.

* * * *

د سید آباد په شرعی..

(پخپلو دوو ګوتویی دیوی افغانیګی سکی په اندازه حلقه جوړه کړه) مهر متی. له دی خبری څخه دده مطلب دا و چی زه (ناحقه) قسم او قرآن خورلو ته هم چمتو یم، خو قاضی صاحب ورته وویل چی ماما په دی مسئله کی قسم ته حاجت نشته او دا مهر هم له همغه قرآن پاك حخه راوتلی دی.او بیایی د محکمی د ۱۳۷٤/٦/۹ تاریخ دوهم نمبر قضایی قرار د محکمی په مهر مانه رسماً وسپاره او د فیصلی یو نقل یی د تطبیق لپاره مکتوبی دولسوالی اداری شعبی ته ولیږه. هلته مانه وویل شول چی دقضایی قرار دتطبیق لپاره مسلح طالبان درسره استوو خو ما دا خبره ونه منله او ومی ویل چی هغه زما د ماما خپلو کلی دی، هلته مسلح کسان له ځانه سره نه بیایم. د محکمی قاضی زما تر خبرو وروسته د ولسوال مرستیال حاجی صاحب ستانه دار ته چی د حاجی خلیل الرحمن کلیوال او عزیز دی مخ واړاوه او وی وویل چی دا فیصله به ته تطبیقوی، ستانه دار حاجي صاحب ورته وویل چی شرعی فیصله به خپل پلار هم تطبیق کرم.

داده اوسه او مانه یی وویل چی ځمکه دی بیا مبارکه شه! داوو د سیدآباد ولسوالی په محکمه کی دیوی حقوقی مسئلی د شرعی او منصفانه حل و فصل جریان چی په پوره ریښتینولی ولیکل شو او ټول اسناد یی له ماسره موجود دي.

دلته باید دا خبره په ډاګه کرم چی دطالبانو په وخت کی د سیدآباد ولسوالی له څوکاله رکود څخه وروسته بیا فعاله شوه. که څه هم چی په شعباتو کی قالینی، ښکلی میزونه، موبل او فرنیچر موجود نه وو خو ډیره تقوی موجوده وه، ما د خپلی دعوی په جریان کی په سلګونو کسان هلته ولیدل چی دخپلو کارونو د اجرا یا د خپلو حقوقی او جزایی دعواګانو د حل و فصل لپاره په شعباتو کی ګرځیدل، که څه هم چی دکارونو اجرا ډیر وخت نیوه او زیات تګ راتګ خلك پریشانه کوی خو هیچا ددوه افغانیو د رشوت خبره راته ونه کړه. له مراجعینو سره دمامورینو پیش امد ښه او دواسطی او پیسو او زور قصه بیخی ختمه شوی وه.

ددوی دلاپرپالیتوبونو په هیله

په اسلامی نړی کی...

ضیاً ګوك الپ د خپل کتاب Turkish Nationalism and Westerm Cirilization، په ۲۷۱ مخ کی لیکی «کله چی یو ملت د خپلی ترقی او پرمختګ ستره فاصله وهلی وی نو دخپل تهذیب بدلول هم ورته ضروری شی. هغه وخت چی ترکان کوچیان کوډال وو په متفنی آسیا کی اوسیدل، نو دلری ختیځ د تهذیب تر اغیزی لاندی وو. بیا چی د عثمانی سلطنت دوره ورباندی راغله نو د بیزنطنی تهذیب ترتاثیر لاندی وو، اوس چی د خلکو د حکومت د دوری په خوا روان دی، نو د لویدیځ د تهذیب د خپلولو کلکه اراده یی کړی ده.» د همدغه کتاب په ۲۲٦ مخ کی لیکی: «مونږ باید په دوو کی یوه لاره ضرور انتخاب کړو، یا به لویدیځ تهذیب او ثقافت په ځان عملی کوو، او یا خو به دلویدیځ د ځواکونو غلامی خوښوو. مونږ باید دیوی خوا فیصله وکړو، خو دا لازمه ده چی مونږ د خپلی آزادی د ساتنی دپاره، لویدیځ تهذیب او ثقافت د خپلی خپلواکی بنسټ او اساس وګرزوو.» د همدغه کتاب په ۲۷۲ مخ کی لیکی: «دین ته د تهذیب نوم ورکول درست نه دی، نه عیسایی تهذیب شته او نه خو اسلامی تهذیب وجود لری.»

ترکی ملت پالنه او غربی سیکولو تمدن خپلول په حقیقت کی په سیمه ایزو او بین المللی جګړو کی د ترکانو د شکست خورده ذهنیت انعکاس او د عربی او کردی ملت پالنی په مقابل کی عکس العمل ؤ چی د اسلامی تمدن او تهذیب په خلاف د بغاوت په بڼه د مصطفی کمال اتاترك په مشری کی راحرګند شو.

د مصطفی کمال اتاترك په هکله دهغه همدرد سوانح لیکونکی عرفان اورګا، د خپل کتاب «اتاترك» په ۲۳۷ مخ کی لیکلی دی.

«کمال اتاترك دغه حقیقت درك کړی ؤ، چی دده جګړه د دین په خلاف ده... دهغه په وړاندی د خدای هیڅ ضرورت نه ؤ او د خدای یی یو خطاکونکی موهومی نوم باله چی حقیقت نه لری (العیاذ بالله)، هغه یواځی په هغه څه ایمان درلود چی لیدل به یی، دده په عقیده، په پخوانی اسلام یواځی یو تخریبی ځواك پاتی شوی دی. چی ترکیی ته یی زیات تاوان رسولی دی.» دهمدغه کتاب په ۲٦۰ مخ کی لیکی، «مصطفی کمال به خپلو خلکو ته وویل چی مونږ ته پکار دی د یو مهذب ملت لباس واغوندو، نړی ته باید ووښیوچی مونږ لوړ ملت یو، مونږ باید دبل ملت خلکترنه دغه موقع په لاس ورنه کړو چی ځمونږ په زاړه فیشن باندی خلك وخاندی، مونږ باید له زمانی سره سم رفتار وکړو.»

مصطفی غوښتل دلویدیز په مینه کی خلك دلویدیځ په کلتوری رنګ باندی ورنګوی، په داسی حال کی چی هیواد دمادی پرمختګ د پاره د لویدیځ هغو ساینسی علوموته اړه لری چی یو وخت بی له مسلمانانو څخه زده کړی وو، هیواد دلویدیځ پرمختللی تیکنالوجی ته محتاج دی چی وطن ودان کړی، په غربی لباس اوفاسدو اخلاقو هیواد پرمختګ نشی کولی.

د غزنی ولایت مرستیال محترم مولوی عارف الله «عارف» د ځینی کارونو په خاطر کندهار ته ورسید

د غزنی د ولایت عمومی مرستیال محترم مولوي صاحب عارف الله عارف د ځیني کارونو د سمون په خاطر کندهار ته تشریف ووړ.

د کندهار ولایت ته د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی محترم مولوی عارف د عالی شوری د سرپرست او د کندهار ولایت والی محترم الحاج ملا محمد حسن اخند سره وکتل. د شریعت د خبریال د خبر له مخی لومړی محترم مولوی عارف الله «عارف»، محترم حاجی صاحب ملا محمد حسن اخند ته د نومړی ولایت په اړه هراړخیز معلومات وړاندی کړل او زیاته یی کړه، د لوی خدای(ج) په فضل او د اسلامی تحریك د مجاهدینو د ښي سرښندنی په اساس امنیت تأمین او ټولی اداری فعاله دی. د غزنی ولایت غیرتمن خلك خپل ورځنی ژوند په ښه امن او سکون سره تیروی. او د اسلامی تحریك له مجاهدینو سره هر قسم قربانیو ته آماده دی. وروسته محترم حاجی ملامحمد حسن اخند ددوی د ښه کار کولو څخه خوښي ځرګنده کړه او وی ویل: دا هم د تاسی او نورو مخلصو مجاهدینو قربانی دی چی د هیواد په زیاته برخه کی امنیت تأمین او شریعت پلی شوي، وروسته محترم حاجی ملا محمد حسن اخند د کار د لابه سمون په خاطر لازم هدایات ورکړل.

* * * * *

په لغمان کی دیو مشهور قوماندان متین خان ورور سره (٦) تنه ملګرو ووژل شو

د لغمان ولایت نه شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی د علینګار ولسوالی د ملیل په قریه کی د حزب او جمعیت تر منځ یوه خونړی نښته وشوه خبر ځای زیاتوی چی دلغمان ولایت ملیل سیمه کی نښته هغه وخت پیل شوه کله چی د جمعیت ډلګی پوری مربوطو ټوپکیانو په ملیل کلی باندی حمله وکړه چی په نتیجه کی په حزب پوری مربوط د مشهور قوماندان متین خان ورور چی ورسره ګڼ شمیر نور خلك هم وه مړه او ژوبل شوی دی.

دیاد ور خبره داده چی د ملیل قریه د داخلی جنګونو له امله زیاته او ویجاړه شوېده حتی چی تر اوسه پوری پدی قریه کی دحزب او د جمعیت د داخلی جنګونو له امله ۷۰ تنه مړه شویدی.

داهم د لوټمارۍ...

دعوت ورکړل شوی و او په همدغه واده کی یوسل او پنځوس پسان او غوایان قربانی کړی شوی وو.»

په افغانستان کی دومره لوی سرمایه دار کله هم موجود وو؟! آیا د اسماعیل پلار میلیونر وه چه دومره مال ئی لاسته راوړی وو...

د لغمان ولایت...

د نفر نتایج...

ویر ناړینه او...

امریکا د ربانی...

د وردګو...

د کندهار والی...

خبرځای وړاندی لیکی په دغه کتنه کښی د زابل ولایت قوماندانانو د کندهار والي الحاج ملا محمدحسن ته د زابل ولایت د مجاهدینو او مؤمنو خلکو دښه خدمت بشپړ ریپوټ ورکړ او دغه رازیی ډاډ هم ورکړ چی مور به په ګران افغانستان کښی د شریعت د نفاذ تر راتلو خپلو روانبارزو ته ادامه ورکړو.

په پای کښی د کندهار والي دوسلوالو مجاهدینو قوماندانانو ته د ښه خدمت، میړانی او جهاد کولو کور ودانی ووایه، له دوی نه یی مننه وکړه او لازم هدایات یی ورته ورکړل.

طالبان په اوس وخت کښی..

څکه هلته مسلمانان ډیر مشکلات لری، د کابل د مې ژواندی اداری دوسلوالو لوګارو لخوا تر ټول وړل ګراوو تر لاندی ژوند کوی.

اخند زاده صاحب دیوی بلی پوښتنی په ځواب کښی وویل: طالبان نه دچا ځانګړی دوستان دی او نه دښمنان، غواړی چی په ټول هیواد کښی شرعی نظام قایم کړی.

دبی درکی اعلان

قاری انصارالله دنقیب الله زوی د ننګرهار ولایت د کامی ولسوالی اوسیدونکی دیرکال نه زیاته موده کیږي چی له خپل کوره لادرکه شوی.

که د قاری انصارالله په هکله څوك څه معلومات لری مهربانی دی وکړی په دی پته دی مور ته خبر راکړی.

بخشی پل دپاچاصاحب مدرسه.

دقاری صاحب عبدالراحد جرمات قاری عبدالقیم (فاروقی) یا په ۹۷ ۲۱ نمبر تیلیفون مولوی صاحب رحمت الله.

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

اکنون بیرقی شد که بقای اداره کابل به کمك روسهاست

اداره کابل که نتیجه یك سازش و توطئه، تعدادی از داخلیها و خارجیان است که در قبال تاریخ و بافت اجتماعی و مذهبی کشور عقده های در دل پرورانیدند و ننګ نظام - به اصطلاح- حکومت اسلامی را برمبنای عصبیتهای زبانی و قومی نهادند و خرد پنداشتند که مسیر تاریخ سیاسی و دولتی کشور را بطرف عدالت اجتماعی و سیاسی تغییر دادند و به انحصار تاریخی... خاتمه بخشیدند اما نه چنین بود که بد مستان غرق در نشه، عصبیتها پنداشته بودن بلکه عاقبت کار شان همچون اسلاف شان (کمونستها) بطرزی رفت که با ملت خود آویختند. آنچه از قهر، غیظ و غضب در اختیار داشتند علیه ملت خود بکار ګرفتند بی محابا کشتند، چور و چپاول کردند، پرده، عصمتها دریدند و آنچه از سرمایه های ملی و شخصی بود بتاراج بردند...

SHARIAT WEEKLY
Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan
Tel : 840378
PAK RUPE A/C CO. No. 1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan

یادونه

سایی ستاسو اپان په اجازه د نکړی چی دا دول سپیځلی پاڼی په ناورو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

زیری زیری زیری

«مولوی محمد نبی (محمدی) دطالبانو داستازی د پوښتنو په ځواب کښی» کتاب، چی یو شمیر تاریخی واقعات پکی را برسیره شوی له چاپ نه راوتلی، مینه وال کولی شی له دغو کتاب پلورنځیو، کابل کتاب فروشی، دانش کتابخانه او خیبریونیورستی بك ایجنسی خیبر بازار نه یی ترلاسه کړی.

مونږ د هغی ورځی په ارمان کی یو چی د اسلامی امت په آسمان کی دعلم، پرهیزګاری، حزم او تدبیر میرمنی، لمبانی یو ځل بیا وځلیږی